مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالوهاب باور

۲۰۲۵/۱۲/۳۱

# کټ مټ لکه د مـور غېـږه،

## شیرین افغانستانه

جنت کې به یم تا پسې غمګین افغانستانه
الله دې تـا آبـاد لـري آمیـن افـغـانـسـتـانـه

خاپونه د خاپوړو مې اوس هم په زړه را اوري
کټ مټ لکه د مـور غېـږه، شیرین افغانستانه

اروا یې ستا په هجر کـې پـه چـغـو چـغـو ژاړي
چې ستا نـه جلا شوی کوم نیازبین افغانستانه

دښمن سره جګړه کې تېره تـنـدر د اسـمـانـه
پـه مینه او ایـثـار کـې ګل ورین افـغـانستانـه

ځوانان دي د یورپ په بازارو کې زاره تېکي
دا ستـا د خاورې بوی پسې ګبین افغانستانه

پـکـار ده چـې کـعـبـه تا ته راغلی وی پخپله
ته دغومره ځار شوی یې له دین افغانستانه

ته خاوره د میرویس او د احمد او خوشحال خان یې
قربـان د بـاچا خـان او د پښتین افـغـانسـتـانـه

بـاور


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنيزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راليږلو مخکې په خیر و لولـئ